مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۴/۰۵/۰۸

# کیمیاګرۍ ته سرود!



کیمیاګرۍ! زړه مې جوړ له تورو خاورو
راشه ښکل یې کړه په شونډو چې سره زر شي
دا زرین صندوق کړه ډک له مرجانونو
چې ستا هار ته یې غمي پرهر شي
.
کیمیاګرۍ! ها اکسیر ته مې زړه شوی
څــه ذرې د لاژوردو راپیــدا کــړه
چې دا ستا د تکو سرو شونډو په رنګ دي
د سیمابو له ښیښې نه یې سر وا کړه
.
کیمیاګرۍ یو یو ځاځکی به یې وڅښو
چې ما و تا نه دوه رنګین پتنګان جوړ شي
میناتور داسې انځور مو په وزرو وي
چې جوړه کېنو له دواړو ګلان جوړ شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځير و لولــئ

.
کیمیاګرۍ پټ به والوځو دونیا نه
د خوږو خوږو وږمو په څپو دواړه
چېرته بله دونیا هم شته چې ورتلی شي
ګلوزري پتنګان غاړه په غاړه

.
کیمیاګرۍ! ما پناه له دې دونیا کړه
ما درخپل کړه، ما له هرڅه در جدا کړه
ټول راګوري چې په تا باندې مېين یم
ما له دومره ډېرو سترګو الونیا کړه

.
کیمیاګرۍ! ستا دسترګو رانجه څه دي
زما خوږو خوږو خوبونو کې خواره دي
مخامخ ناست یم ستا دوه لېمو ته ګورم
ستا بندي یم، پیرهدار مې ستا باڼه دي

.
کیمیاګرۍ! ماته داسې معجون راکړه
چې ذره ذره د رنګ او د رڼا شم
بیا مې بېرته کړه راټول په سره غمي کې
چې دې غاړه کې راځوړنده نڅا شم

.
کیمیاګرۍ! ستا له ګوتو رڼا څاڅي
ما لیدلی د زري کبانو پل دی
دغې ترږې چینې ستا تصویر نوشلی
دا څراغ چې په رڼو اوبو کې بل دی

.
کیمیاګرۍ! د جنت له مُشکو جوړې
ستا په خټه کې یې سره شراب اخښلي
سپوږمۍ ستا د تور کمیس ګریوان کې ستوري
د الماسو په نیزو باندې ویشتلي

.
کیمیاګرۍ! ته راځه توکل په خدای کړه
په دا تکو تورو سترګو مې کړه پورې
چې ښایست سره دې تل په ټپو یاد شم
دا د چم نجوني له رخې کړه سرتورې

.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ